سلطان جان کلیوال ۲۰۱۶/۰۵/۰۴

# چی انسان نه شیطان جوړ شي



مینه وسوځي اور واخلي     امیدونه ټول ایره شي
پانه پانه شی ګلونه     چمنونه سره لمبه شي
جوبنې والوزی هر زړه نه     له انګار ډکه سینخه شي
جنتونه ټول خزان شي     دوزخونه لا تازه شي
رڼا ورکه شي له ځمکې     په نړی تیاره خوره شي
په ژوندیو ژوندون بار شي
چی انسان نه شیطان جوړ شي

** * **

ژبې وچې ستوني وچ شي     پکی ورک شي آوازونه
ځانګي وچي شي د ونو     نه غوټۍ وی نه ګلونه
شي خوری د غم تغري     نه خنداوي نه سازونه
هسي ویره را خوره شي     چی کړی وچ د زړه رګونه
شني لوخړي شني دري شي     ترینه پورته شي دودونه
ټوله ځمکه جوړ انګار شي
چې انسان نه شیطان جوړشي

** * **



ارسال مقالات: info@arianafghanistan.com و یا spineghar@gmail.com

ځناور لــه غرونو تښتي　　　مرغان تښتي لـه باغـونـه
پتنګ شمعي نه بيزار شي　　　بـورا ګـان لـه چـمنو نـه
لــور د مور نه کوی کرکه　　　عزت لاړ شي له پلرو نه
پرمينځـي وينه پـه وينـــو　　　ژوندون غواړی له چړو نه
يـو دبـل پـه سر ورخيژی　　　پلي تيز وی لـه سـپرو نه

بي تـولي د هر چا کار شي
چی انسان نه شيطان جوړ شي

** * **

يـو دبـل پـه سر ورخيژی　　　عقيده د اور ځنځـير شي
هر سړی پری تـړل کيږي　　　له مذهب جوړ غړوندی شی
د هب چا غاړی ته لويږي　　　پـه رنګونـو او پـه ژبــو
بنيـادم ســره بـيـلـيږي　　　پـه سـمتونـو او پــه ژبـو
يـو د بل نـه جــدا کيږي　　　يـو نا اهلـه يـی رهبر شي
بيا په مپل منځ کی جنګيږي　　　ريښي تولي تار په تارشي
تالا ګـډه پـه هـر ښـارشي　　　ډک له او ره هر بهار شي

تـول ولسونه خـوارو زار شي
چی شيطان نه انسان جوړشي

انجنير سلطان جان کليوال
۲۰۰۷/۰۳/۰۲
تورنتو/ کانادا